ليکوال: اسد ميوند مسکو، نيټه ٠٦-١٢-٢٠١٠

# ځوانان دافغانستان ددريولسيزو دجګړو په اورکې

ځواني دانسان دژوند په اوږدو کې ترټولو نيکمرغه مرحله ده، ځواني دانسان دژوند پسرلی دی. لکه څنګه چې په پسرلي کې ګلونه غوړيږي او بلبلان ورته د ژوند تراني وايې، او فضا په خپلو وږموکې خوشبويي خوروي او طبيعت ته ښکلا وربخښي په همدي ډول دانسان استعداد په ځوانی کې دګلونو په څير غوړيږي که چيري پالنه يې و شي د ژوند ترپايه به دنړی نورو انسانانو ته نيکمرغي او ښکلا ورپه برخه کړي.
خوله بده مرغه بايد په خپله وروسته پاتي او بدمرغه ټولنه کې د تياره ژوندانه د اروڼ حقيقت ومنوچې زموږ په هيواد کې له ځوانانو څخه دطبيعت په ښکلاکې نه دطبيعت په ړنګيدوکې کار اخيستل شوي دی.
په همدي اړوند غواړم خپل شيندلي فکرونه پدي کوچنی ليکنه کې را ونغاړم ترڅولومړی ځان او بيا خپل نورهمزولي پدي پوه کړم چې په افغانستان کې ولی ځوانان دجګړو په اورکې وسوځيدل؟ او اوس يې په څه ډول بايد مخنيوي وکړای شي؟ په همدي ډول په افغانستان کې نن ورځ د ځوانانو ستونزي.
زموږ په ګران هيواد افغانستان کې څه د پاسه دري لسيزي جګړه روانه ده او زموږ د هيواد ځوان کول او ځوان استعدادونه يې دخپل اور په لمبوکې په ډول او ډول نومونو وسوځول. د ١٣٥٧ هـ ش کال د غوايې دمياشتي اوومې نېټي له کودتا څخه راپدې خوا دغه د کار او علم سرچينه چې ځوانان دي دجګړو په بيلابيلو لېکوکې ځای پرځای شول، او په هرنامه يا وغوليدل او يا د بعضو مجبوريتونو پراساس يې دپوهنتونونو، او دښوونځيولاري پريښودي او دجګړي ډګر ته يې ور ودانګل او زموږ په هيوادکې د اوږدي جګړي د اور دسون دلرګو په توګه تري کار واخيستل شوچې ترننه پوري دالړی روانه ده. خو ددي لپاره چې خپل راتلونکي کول له دغو بدمرغيو څخه وژغورو، که څه هم په اوسنيوحالاتوکې دا يوستونزمن کاردي خولاس ترزنې ورته کيناستل دخپلوخلکو او هيواد سره يوه لويه جفاده. دلته زه په لنډ ډول زموږ دهيواد او دخلکو په ستونزو رڼا اچوم او دحل لاره يې څه ده؟
لومړی ستونزه : موږ دخپل هيوادهرډول خپلواکې ديوشميرځان غوښتونکواووطن پلورونکو اشخاصو، افرادو، او دسياسي ګوندونو دناکامو سياستونو په نتيجه کې له لاسه ورکړی ده. په اوسنيوحا لاتوکې ځوانانو ته په کارده چې د قلم په ژبه دمبارزي لارغوره کړي، که څه هم وخت به ډيروغواړي خوثمر به يې ښه وي. موږ بايدځان او خپل هيوادوال دنړی والو دهرډول تورڅخه پاك کړو او دا څرګنده چې افغانان د بشريت ضد خلك نه دي افغانان له تروريزم څخه ملاتړ نه کوي بلکي تروريزم په هرنامه محکوموي.
دوهمه ستو نزه: زموږپه هيوادکې دپخوانيوسياسي رنځورانوشميره له خپلي کچې وتلي،داخلك چې نن ورځ زموږدسپين ږيرواومشرانوپه ډله کې راځي له بده مرغه دوی ترننه پوري ونشوکولای چې دوطن دژغورولولپاره يوه واحده لارغوره کړي ، لکه څنګه چې وخت داڅرګنده کړي دوی هيڅکله ديوي واحدې لارپيروان کيدای نشي، ځکه دوی دپخوانيوسياسي دښمنيوڅخه يوبل ته نه تيريږي، اوکه کله هم دبعضومجبوريتونوپر اساس يوظاهري وحدت ته غاړه ږدي خوپه باطن کې هماغه زاړه فکرونه اوهماغي زړي عقيدي دي اوهماغه ديوه درياب بي شماره ويالې دي چي هيڅکله بيا يوه درياب ته نه راځي.که ددي هڅه وشي چې ځوانان ددوي دزړوافکاروله اغيزې څخه لري وساتل شي دابه ښه خبره وي ترڅوځوانان وکولای شي دخپل هيواددژغورولوپه خاطريوه داسي لارغوره کړي چې له هرډول کينو اودښمنيو څخه پاکه وي.
دريمه ستونزه: زموږپه هيوادکې دکورنيوجګړوپه وخت کې زموږدهيواداوخلکودښمنان پدي وتوانيدل چې زموږ دخلکو په منځ کې دنفاق تخم وشيندي، او يوداسي اوربل کړي چې په خپله افغانان په کې وسوځيږي خودجګړي ګټي دهغوی په ګټه تمامې شي. ددي اوربلولولپاره دښمن دافغانستان خلك په قومې، ژبنې، سمتې، اومذهبې ډلوويشل اوترننه هم دهمدغو تفرقاتو په اساس دافغانانو په منځ کې ډيرفعال کارکوي. خودخواشينی ځای دادی چې په افغانانوکې اوس هم داډول خلك ډيردي چې دخپلوځانې ګټوپه خاطردهيواد او خلکوملي ګټي ترپښولاندي کوي او په هيوادکې ملي يووالې ضد اعمال ترسره کوي، کله ځان دقوم مشر، کله ځان دمذهب امام، کله ځان ديوه سمت رهبر اوداسي نورټاکې ،له بده مرغه هيڅوك ورڅخه دانه پوښتي چې ته چاداافغانستان دخلکو دقومونو، مذهبونو او سمتونو مشرکړي؟ ولې ديو قوم موجوديت په داسی يوچاپوري وتړل شي، چې هغوی ته زموږ دقومونومشري زموږ دهيواد اوخلکو دوستانو نه دښمنانو ورکړي ده. زماپه نظرهرهغه څوك که په ريښتيا سره دافغانستان او زموږ ځوريدلو خلکو ژغورل غواړي دټولو تعصباتو څخه دي لاس واخلې ، او ټولو قومونو او ژبوته بايد دوه اړخيزه درناوي وشې ځکه داديوه قوم او يوي ژبې پوري اړه نه لري دادټولو افغانانو کاردي.


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

څلورمه ستونزه: زموږ په هیوادکې دبهرنیوځواکونو شتون دی، چې له بده مرغه دا باید ومنو چې افغانستان نن ورځ یو داسې ملي پوځ نه لري چې دبهرنیو ځواکونو دوتلو څخه وروسته دې په افغانستان کې امنیت دټینګښت ضمانت وکړي. دیادو ولووړده چې افغانستان خپل ملي پوځ دهمدغو دریو لسیزو په جګړوکې لومړی په ګوندي، سمتي، منطقوي، او ملیشوي پوځونوبدل کړاو په پای کې له منځه ولاړ.پوځ چې په یوه هیوادکې د استقلال، ځمکنۍ بشپړتیا، او دملي نوامیسو ساتونکې دي باید د هیواد او دخلکودګټوڅخه دفاع وکړي نه دیوګوند او یا دیو فرد له ګټوڅخه، دافغانستان دملي پوځ له منځه وړلو پېره به په یوه ګوند، یوي ډلې، او یا په یوه شخص دلته نه اچوو ځکه دا ډېراوږد بحث غواړي خو ترټولو ښه قضاوت به پدې هکله تاریخ وکړي.
پنځمه ستونزه: ترټولو لویه بدمرغي زموږ دخلکوبې سوآدي ده، چې دا دهمدغو جګړو محصول ګڼلای شو.دا زموږ دهیواد او دخلکود دښمنانو یوه زړه تګلاره ده چې دوی ټول عمرددي لپاره هڅه کړې چې افغانان دپوهې له نعمت څخه محروم وساتې تر څو دوی وکولای شې ډېر په آسانه توګه له افغانانو څخه د افغانستان پرضد ګټه واخلې. ددښمن ددې ناوړې تګلارې په وړاندې باید ځوانان په هره کچه مخنیوي وکړي، او داپو ښتنه وکړي چې ولې یې ښوونځې په اور سوځول کیږي؟ او ولې یې دهیواد روڼ انده شخصیتونه په ډول او ډول نومونو یا وژل کیږي او یاله هیواد څخه وتلوته مجبوریږي؟
شپږمه ستونزه: غربت او فقر(اقتصادي ستونزي) داهغه ستونزي دي چې دنړۍ د ډیروهیوادو نوخلك ورسره لاس او ګریوان دي، خوپه نورو هیوادنوکې یوه داسې دولتي اداره یاسیستم موجود دی چې خپلو خلکوته یې دانسانې ژوند ترټولوسترنعمت سوله او امنیت ټینګ کړی خلك یې لږ یاډېرځانته دومره څه جوړوي چې ژوند پرې تیرکړي. خو زموږ په هیوادکې له بده مرغه دخلکو لپاره داقتصادي ستونزو دحل لاره دجګړې ډګرته وردانګل دي. جګړه زموږ دخلکولپاره د ډوډی پیداکولو یوه وسیله ګرځیدلې. او همداځوانان دي چې تر ننه هم دهمدغې جګړې په اورکې سوځیږي.
شپږمه ستونزه: داسلام دسپیڅلي دین په نامه زموږ په هیوادکې دغربي نړۍ ترچترلاندي ناوړه ګټه اخیستل دي چې دا هم له بده مرغه زموږ د خلکوبې خبري دخپل دین په اړوند څرګندوې، دبې خبرۍ خبره زه دلته دقرآن عظیم الشان ددي مبارك ایت په رڼاکې کوم چې فرمایي (اِنماالمومنونَ اخوة) یعني مومنان سره ورونه دي. نوچې موږپدي مبارك ایت ایمان لرو بیا ولي همدا مسلمانان په ژبو، رنګونو، قومونو او داسې نورو ډلوویشو، تر ټولوخود تعجب وړکار دادی چې زموږ په هیوادکې له بده مرغه داسې جګړه روانه ده چې دجګړو دلیکو دواړو خواوته دیوبل په لور دتوغندیو دتوغولو وخت کې دایوغږ اوریدل کیږي چې (ناره تکبیرالله اکبر) سوالونه پیداکیږي دواړه خواوي دالله اکبرغږ کوي، یوه خواهم خپلومړوته شهیدان او ژوندوته غازیان وایې بله خواهم په همدي ډول نوبیا داغدار او هلاك څوك شو؟ داداسې یوسوال دي چې ترننه یې زموږ په هیوادکې ځواب نه دی پیداکړی. ځوانان باید داهیره نه کړي چې موږافغانان سره له دي چې تاریخي ریښي لرو دیوه دین پیروان هم یو.
اوومه ستونزه: دبهرنیواستخباراتي شبکو سره دیوشمیرافغانانو کارکول او دپردیو په ګټه په افغانستان کې خپل ژوند وقفول، ددې خلکوشمیره له بده مرغه زموږ په هیوادکې له کچې وتلې ده. داهغه خلك دي چې دخپلوځانې ګټو په خاطرزموږ په هیوادکې دملي ګټو ضد اعمال ترسره کوي، اوپدې هم ویاړي چې د یوي بهرنۍ جاسوسۍ شبکې ته دمزدور په توګه دنده ترسره کوي.
ددې خلکو دایوه دنده داده چې په هیوادکې د ملي غورځنګونو، او هیوادپالوافغانانو دراجګیدلو مخه ونیسي او په هرډول چې وې له منځه یې یوسي، لومړۍ هڅه کوې چې په افغانستان کې یې دروان سیاسي بهیر څخه ګوښه کړي او که پدې ونه توانیږي نوژوند ته یې په ساده ډول دپای ټکې ږدي.
اتمه ستونزه: زموږپه هیوادکې دګڼ شمیر سیاسي ګوندونو ثبتول (راجسټر) چې شمیره یې له سلو څخه زیات دی. داهم دافغانستان دخلکو ویشل په څوکو چنیوډلودي چې په خپله ددې خبرۍ څرګندونه کوي چې بهرنیان نه غواړي په افغانستان دوه یا دري لوی سیاسي ګوندونه منځ ته راشي، او دبهرنیانو د وتلو څخه وروسته دهیواد سیاسي واګې په لاس کې ونیسي. په همدي ډول یې دافغانانو یو فکرپه سلګونو فکرونو ویشلې او دیوه مشر پرځای یې ورته سل مشران جوړکړي دي. دیادوو لووړده چې په وروستیونهوکالونوکې جوړشوي سیاسي ګوندونه تر اوسه هیڅ یوپه ځان کې داتوان نه دی پیداکړي چې دبهرنیو ځواکونوله وتلوڅخه وروسته دې دهیوادسیاسي واګې ترلاسه کړي او امنیت دي ټینګ کړي، ځکه دډیرو ګوندونو دغړوشمیره په لسګونوکې ده. داسې ګوندونه هم ثبت شوې ووچې حتی سل غړي یې هم نه درلودل.
نهمه ستونزه: دنړۍ والې ټولنې دوه مخیزه سیاست او دناټو دپوځې ځواکونو بې رحمه عملیات په افغانستان کې دتروریزم پر ضد دمبارزې ترشعار لاندې دبې وزلوافغانانو وژل دي، چې زه پدې هکله دهرافغان د چوپتیا اختیارول دخپل وطن او خلکوسره ترټولو سترخیانت بولم. دامریکا دمتحده ایالاتو په مشرۍ نهه کاله په افغانستان کې د اسامه او دهغه دپلویانو په لټون کې تیرشول، خوتر ننه یادوی ونه غوښتل او یايې ونشوکولای چې اسامه او پلویان یې یا ونیسي او یایې له منځه یوسي، ولي په زرګونوبې ګناه افغانان یې په شهادت ورسول. دعصري پوځې ټکنالوژۍ په درلودو


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

سره دوی ځنګه نشي کولای چې دالقاعدي او دطالبانو دغورځنګ مخه ونيسي؟ ولې په زغرده بايد داووايم چې دوی نه غواړي په افغانستان کې سوله راوړي او يوملي افغاني حکومت جوړکړي.

زماغوښتنه له روڼ انده ځوانانو څخه داده چې زموږ دهيواد پدې حساسو شيبوکې خاموشي اختيار نه کړي، او دځان غوښتونکواوهيواد پلورونکو دهوسونو قرباني نشي. څومره به ښه وي که دوروستيو دريولسيزو دجګړو انځورونه او عاملونه په خپل ذهن کې ځای کړو اوعبرت ترې واخلو، راځئ چې دخپل ويجاړ هيواد دخلکوغښې تاريخ په غورسره ولولو، راځئ چې له هغې کونډې ميرمنې څخه وپوښتو چې ميړه يې دچا دهوسونو قرباني شوې؟ چې نن زموږ دويجاړ هيواد په ويجاړ وکوڅوکې سوال کوې، او يا دغربت تيارو دومره مجبوره کړې چې نامشروع کارونوته يې لاس اچولې ترڅو خپلو يتيمانوته دخوراك څه پيداکړې.

راځئ دهغو بورو مېندو څخه وپوښتو چې زامن يې په کومه لار او دچا په نوم قرباني شول؟

راځئ له هغومعصوموماشومانو څخه وپوښتوچې نن ورځ ښوونځي ته دتلوپرځای زموږ دهيواد په بازارونوکې ګرځي او داوايې (کاکا بوټونه دی راکړه چې رنګ يې کړم )

په پای کې راځئ دهمدغو بدمرغو حالت دهغووطن پلورونکو اوولس پلورونکو مشرانو دميرمنو، مېندو، او بچيانوسره پرتله کړوچې نن هم په دنګو محلونوکې او سيرې او دنړۍ ترټولوقيمتې موټروکې سپريږي، او بچيان يې په امريکا اوغربي اروپا په هيوادونوکې په زده کړو او ياپه مستۍ بوخت دي.

دبشريت تاريخ داځرګنده کړي  په هره ټولنه کې چې دظلم اواستبداد توره دمظلوموانسانانو دمرۍ په وينوسره شي انجام  يې په هغه ټولنه دعدالت په خاطر يوبغاوت دی، خودداسي يوسالم بغاوت چې وکولای شې حق حقدارته وسپارې.

دويجاړافغانستان دودانيدو، او دټولنيزعدالت دپلي کيدوپه هيله.

پای


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ